مه يې وژنه، ځکه چې که ته هغه ووژنې، نو هغه به ستا په څېر وي مخکې له دې چې ته يې ووژنې، او ته به د هغه په څېر شې مخکې له دې چې هغه کلمه ووايې، هغه چې ويې ويله

له مقداد بن عمرو الكِندي رضى الله عنه څخه روايت دى چې: هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: څه فكر كوې كه زه د كفارو له يوه سړي سره مخ شم او جګړه مو سره راشي، هغه زما يو لاس په توره ووهي او پرې يې كړي، بيا زما څخه يوې ونې ته پناه يوسي او ووايي چې؟ الله ته مې غاړه ايښودلې ده (يعنې مسلمان شي) نو آيا زه يې لدې وينا وروسته هغه وژلى شم اې د الله رسوله؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل «مه يې وژنه» هغه وويل: اې د الله رسوله! هغه زما يو لاس پرې كړ بيا يې دا كلمه وويله؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "مه يې وژنه، ځكه چې كه ته هغه ووژنې، نو هغه به ستا په څېر وي مخكې له دې چې ته يې ووژنې، او ته به د هغه په څېر شې مخكې له دې چې هغه كلمه ووايې، هغه چې ويې ويله".

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

مقداد بن الاسود رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وكړه چې كه له يوه كافر سره په جګړه كې مخ شي او دواړه سره په توره وجنګيږي، تر دې چې كافر د هغه يو لاس په توره ووهي او پرې يې كړي، بيا ترې كافر وتښتي او يوې ونې ته پناه يوسي او لا إله إلا الله ووايي نو آيا ماته يې وژل روا دي، په داسې حال كې چې زما لاس يې پرې كړى دى؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: مه يې وژنه. هغه وويل: اې د الله رسوله! هغه زما يو لاس پرې كړى دى، آيا سره له دې يې هم ونه وژنم؟! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: مه يې وژنه، يقينا چې د هغه وينه تويول پر تا حرام شول، ځكه كه هغه دې له اسلام راوړلو وروسته وواژه، نو هغه به ستا په څېر شي چې په اسلام راوړلو سره يې وينه معصومه وګرځي، او ته به د هغه په څېر شې چې د هغه په وژلو قصاص شې.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4815